## د محراقونو او قطرونو ترمنځ رابطه:

د محراقونو او قطرونو ترمنځ اړيکي د فيثاغورث د قضيې له مخې ليکلای شو:

$$a^2 = b^2 + c^2$$


$$c^2 = a^2 - b^2$$

$$c = \pm\sqrt{a^2 - b^2}$$

## د الپس تناظري مرکز او تناظري محور:

الپس دوه تناظري محورونه لري چې يو يې لوی محور د $A\ A'$ پر قطر باندې منطبق دی چې محراقي محور هم بلل کيږي او بل يې کوچنی تناظري محور چې د $B\ B'$ پر قطر باندې منطبق دی.

د دې دواړو محورونو د تقاطع ټکی د الپس تناظري مرکز بلل کيږي او په (O) سره ښودل کيږي.




$$\overline{OA} = \overline{OA'} = a$$

$$\overline{OB} = \overline{OB'} = b$$

$$\overline{OF} = \overline{OF'} = c$$

**عن المرکزيت** (**Eccentricity**): د يوې بيضوي شکل د عن المرکزيت په واسطه ټاکل کيږي عن المرکزيت د محراق او لوی محور له نسبت څخه عبارت دی، د بيضوي عن المرکزيت په e سره ښودل کيږي او د $e = \frac{c}{a}$ په شکل تعريف شوی دی.

$$e = \frac{2c}{2a} = \frac{c}{a}$$

پوهيږو چې په هره بيضوي کې $0 < c < a$ دی، نو $0 < e < 1$ کېږي. د بيضوي د عن المرکزيت او قطرونو ترمنځ داسې رابطه شته $e = \sqrt{1 - \frac{b^2}{a^2}}$


زده‌کوونکي دې د قطرونو او محورونو ترمنځ د رابطې په کارونې سره نوموړې رابطه په لاس راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بیضوي معادله


آیا د هغې بیضوي معادله چې مرکز یې د وضعیه کمیاتو په مبدا کې وي، پیدا کولای شئ؟




### فعالیت

- داسې بیضوي رسم کړی چې مرکز یې د وضعیه کمیاتو په مبدا کې وي او محراقونه یې د $x$ د محور په مخ وټاکئ.
- د $M(x, y)$ یو اختیاري ټکی، د بیضوي پر محیط باندې وټاکئ او هغه له محراقونو سره ونښلوئ.
- د بیضوي د تعریف رابطه نظر د M ټکی ته ولیکئ.
- د M او F د ټکو ترمنځ واټن او همدارنګه د M او $F'$ د ټکو ترمنځ واټن پیدا کړئ او د دوو ټکو ترمنځ د فاصلې د پیداکولو له فارمول څخه په کار اخیستنې د بیضوي معادله په لاس راوړئ.

**ثبوت لومړی حالت**: موږ لرو:




$$|MF| + |MF'| = 2a$$

$$\sqrt{(x-c)^2+(y-0)^2} + \sqrt{(x+c)^2+(y-0)^2} = 2a$$

$$\sqrt{(x-c)^2+y^2} + \sqrt{(x+c)^2+y^2} = 2a$$

یا: $$\sqrt{(x-c)^2+y^2} = 2a - \sqrt{(x+c)^2+y^2}$$

د دواړو خواوو له مربع کولو وروسته لیکو چې:

$$(x-c)^2+y^2 = 4a^2 - 4a\sqrt{(x+c)^2+y^2} + (x+c)^2 + y^2$$

$$x^2-2cx+c^2+y^2 = 4a^2 - 4a\sqrt{(x+c)^2+y^2} + x^2+2cx+c^2+y^2$$

$$x^2-2cx+c^2+y^2-4a^2-x^2-2cx-c^2-y^2 = -4a\sqrt{(x+c)^2+y^2}$$

$$-4cx-4a^2 = -4a\sqrt{(x+c)^2+y^2} \quad / \div(-4)$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې له پورتني معادلې څخه د y قیمت د دایرې په معادله کې کیږدو او معادله حل کړو، نو لاندې پایله په لاس راځي.

$$(x-1)^2+(\frac{4}{3}x+5+2)^2=9$$

$$\Rightarrow x^2-2x+1+(\frac{4}{3}x+7)^2=9 \Rightarrow x^2-2x+1+\frac{16}{9}x^2+14\frac{4}{3}x+49-9=0$$

$$\Rightarrow 9\cdot\frac{25}{9}x^2-9\cdot\frac{50}{3}x+9\cdot 40=0$$

$$\Rightarrow 25x^2+150x+360=0$$

$$\Delta=b^2-4ac$$

$$\Delta=22500-36000=-13500 \quad , \quad \Delta<0$$

څرنګه چې $\Delta<0$ ده، کرښه او دایره ګډټکی نه لري.

**دریم مثال** : د $y=x-1$ د کرښې موقعیت د $y-x^2+1=0$ پارابولا ته وخیرئ.

**حل**: د پورتني مسئلې د څیړلو لپاره د y قیمت د پارابول په معادله کې وضع کوو، او بیاګام په ګام د معادلې حل په پام کې نیسو:


$$y=x-1$$

$$y-x^2+1=0 \Rightarrow (x-1)-x^2+1=0$$

$$\Rightarrow x-1-x^2+1=0 \Rightarrow x^2-x=0$$

$$\Delta=b^2-4ac \Rightarrow \Delta=(-1)-4(1)(0) \Rightarrow 1-0$$

$$\Rightarrow \Delta=1$$




څرنګه چې لیدل کیږي $\Delta=1>0$ څخه ده، نو موږ کرښه یعنې $y=x-1$ په لاندې ډول په لاس راځي او د $y-x^2+1=0$ پارابول یو بل په دوو ټکوکې قطع کوي چې د دې دویمې درجې معادلې حل

$$x^2-x=0$$

$$x_{1,2}=\frac{-b\pm\sqrt{\Delta}}{2a}=\frac{1\pm\sqrt{1}}{2}$$

$$x_1=1 \quad , \quad x_2=0$$

که چیرې په لاس راغلي قیمتونه د کرښې په معادله کې کیږدو،نو د نوموړې کرښې او پارابولا د قطع کولوټکي په لاس راځي، هغه عبارت دي له : $(0,-1)\,,(1,0)$

دغه ټکي په ګراف کې هم په ښکاره ډول لیدل کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړکي مهم ټکي

**مخروطي مقاطع**: د یوې مستوي او مخروط د تقاطع ګډ فصل عبارت ده له: دایرې، پارابول،هایپربولا، یو ټکی، بیضوي او یا دوه متقاطع کرښې.

**بیضوي**: په یوه مستوي کې د ټولو هغو ټکو هندسي محل چې له دوو مستقرو ټکو څخه یې د فاصلو د جمعې حاصل یې یو ثابت اوږدوالی وي، بیضوي بلل کیږي ، مستقر ټکي چې په $F'$ او $F$ تورو ښودل شوي، د بیضوي محراقونه او $AA' = 2a$ ثابت او ږدوالی دی

| شمیره | معادلې | د مرکز وضیعه کمیات | د اوږده قطر انجامونه | دلنډ قطر انجامونه | محراقونه |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | $\frac{x^2}{a^2}+\frac{y^2}{b^2}=1$ <br> $a>b$ | $(0,0)$ | $(a,0),(-a,0)$ <br> د $x$ پر محور باندې دي | $(0,b),(0,-b)$ <br> د $y$ پر محور باندې دي | $(c,0),(-c,0)$ <br> د $x$ پر محور باندې دي |
| 2 | $\frac{x^2}{b^2}+\frac{y^2}{a^2}=1$ <br> $a>b$ | $(0,0)$ | $(0,a),(0,-a)$ <br> د $y$ پر محور باندې دي | $(b,0),(-b,0)$ <br> د $x$ پر محور باندې دي | $(0,c),(0,-c)$ <br> د $y$ پر محور باندې دي |
| 3 | $\frac{(x-h)^2}{a^2}+\frac{(y-k)^2}{b^2}=1$ <br> $a>b$ | $(h,k)$ | $(h\pm a,k)$ <br> قطر د $x$ له محور سره موازي دي | $(h,k\pm b)$ <br> قطر د $y$ له محور سره موازي دي | $(h\pm c,k)$ <br> د $x$ پر محور باندې دی |
| 4 | $\frac{(y-k)^2}{a^2}+\frac{(x-h)^2}{b^2}=1$ <br> $a>b$ | $(h,k)$ | $(h,k\pm a)$ <br> قطر د $y$ له محور سره موازی دی | $(h\pm b,k)$ <br> قطر د $x$ له محور سره موازی دی | $(h,k\pm c)$ <br> د $y$ پر محور باندې دي |

د بیضوي غزول شوي عمومي معادله عبارت ده له: $AX^2+CY^2+DX+EY+F=0$

په داسې حال کې چې $A>0$ او $C>0$ وي: (یعنې دواړه هم علامه وي.)



(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې ډول د $ABH_3$ او $BCH_3$ په قایم‌الزاویه مثلثونو کې لیکلی شو چې:

$$\sin A = \frac{\overline{BH_3}}{c} \Rightarrow \overline{BH_3} = c\sin A \;......... (3)$$

$$\sin C = \frac{\overline{BH_3}}{a} \Rightarrow \overline{BH_3} = a\sin C \;......... (4)$$

د (3) او (4) اړیکې له پرتلې څخه لرو چې: $c\sin A = a\sin C / \div ac$

$$\frac{\sin A}{a} = \frac{\sin C}{c} \;.......... II$$


د $I$ او $II$ اړیکې له پرتلې څخه لیکلی شو چې: $\frac{\sin A}{a} = \frac{\sin B}{b} = \frac{\sin C}{c}$

**پایله**: په هر $A\overset{\Delta}{B}C$ کې په داسې حال کې چې $A, B, C$ زاویې او $a, b, c$ د ضلعو اوږدوالې وي، لرو:

$$\frac{a}{\sin A} = \frac{b}{\sin B} = \frac{c}{\sin C}$$

پورتنۍ اړیکه(رابطه) په یوه مثلث کې د ساین د قانون(Law of sine) په نامه یادیږي.

**د ساین د قضیې ثبوت په منفرج الزاویه مثلث کې:**




د $ABC$ په مثلث کې چې د $C$ زاویه یې منفرجه ده په پام کې نیسو د $\overline{AD}$ او $\overline{CE}$ ارتفاع گانې رسموو.

د $ADC$ په قایم الزاویه مثلث کې لرو: $\sin(180^\circ - C) = \frac{\overline{AD}}{b}$

د بلې خوا د متممو زاویو څخه پوهیږو چې: $\sin(180^\circ - C) = \sin C$

نو : $\sin C = \frac{\overline{AD}}{b} ......(I)$

همدارنگه د $ADB$ له قایم الزاویه مثلث څخه لرو چې: $\sin B = \frac{\overline{AD}}{c} ......(2)$

اوس (1) او (2) رابطې خوا په خوا یو پربل وېشو:

نو : $\frac{\sin B}{b} = \frac{\sin C}{c}$ .........................(1) $\longrightarrow$ یا $\frac{\sin C}{\sin B} = \frac{c}{b}$



(c) ketabton.com: The Digital Library

د $a$ دپیداکولو لپاره لاند تناسب په پام کې نیسو:

$$\frac{\sin A}{a}=\frac{\sin B}{b} \Rightarrow \frac{\sin 129^\circ}{a}=\frac{\sin 20^\circ}{210}$$

$$a=\frac{\sin 129^\circ \cdot 210cm}{\sin 20^\circ}$$

څرنگه چې $\sin 20^\circ = 0.342$ او $\sin 129^\circ = 0.7771$ دي؛ نو:

$$a=\frac{0.7771\cdot 210}{0.342}=\frac{163.191}{0.342}=477.166cm$$

$$a=477.166cm$$

اوس د $c$ ضلعې اوږدوالی د $\frac{\sin B}{b}=\frac{\sin C}{c}$ له رابطې څخه پیدا کوو:

$$\frac{\sin B}{b}=\frac{\sin C}{c} \Rightarrow \frac{\sin 20^\circ}{210}=\frac{\sin 31^\circ}{c}$$

$$c=\frac{210cm\cdot \sin 31^\circ}{\sin 20^\circ}$$

څرنگه چې $\sin 31^\circ = 0.5150$ او $\sin 20^\circ = 0.342$ دی د پورته قیمتونو په اېښودلو سره لیکلای شو چې:

$$c=\frac{0.5150\cdot 210}{0.342}=\frac{108.15}{0.342}=316.2$$

**یادونه:**

د ساین قانون هغه وخت کارولی شو چې:

- دوې زاویې او دمنځ ضلع یې معلومه وي.( $ASA$ )، $A$ زاویه او $S$ ضلع ښیې.
- دوه ضلعې او د منځ زاویه یې معلومه وي.( $SAS$ )، $S$ ضلع او $A$ زاویه ښیې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د $AHB$ په قایم‌الزاویه مثلث کې:

$$coA = \frac{x}{c} \Rightarrow x = c \cdot \cos A$$

په پورتنی اړیکه کې د $x$ پر ځای $c \cdot \cos A$ قیمت ایږدو، نو:

$$\cos A = \frac{b^2 + c^2 - a^2}{2bc} \quad \text{یا} \quad a^2 = b^2 + c^2 - 2bc\cos A$$

**پایله:** په هر مثلث کې دا لاندې اړیکې سمې دي:

$$\cos A = \frac{b^2 + c^2 - a^2}{2bc} \quad \text{یا} \quad a^2 = b^2 + c^2 - 2bc\cos A$$

$$\cos B = \frac{a^2 + c^2 - b^2}{2ac} \quad \text{یا} \quad b^2 = a^2 + c^2 - 2ac\cos B$$

$$\cos C = \frac{a^2 + b^2 - c^2}{2ab} \quad \text{یا} \quad c^2 = b^2 + a^2 - 2ba\cos C$$

## فعالیت

- په همدې مثلث کې دې دوې نورې اړیکې یعنې $\sin C$ او $\sin B$ زده‌کوونکي ثبوت کړي.

**یادونه**: د کوساین قانون هغه وخت کارولی شو چې:

- چې دوې ضلعې او د منځ زاویې یې معلومې وي. ($SAS$)، $S$ ضلع او $A$ زاویه ښیي.
- د مثلث درې ضلعې معلومې وي. ($SSS$)، $S$ یوه ضلع ښیي .

**د ساین او کوساین د قانون له کارولو څخه، د مثلث د عناصرو د پیداکولو لپاره له لاندې جدول څخه کار اخلو:**

| د یوه مثلث د عناصرو پیدا کول | |
|---|---|
| د کارولو فورمول | راکړل شوی معلومات |
| د کوساین او وروسته د ساین قانون | ضلع، ضلع، ضع ( $SSS$ ) |
| د ساین قانون | $SAA$ (زاویه، زاویه، ضلع) |
| د ساین قانون | $ASA$ (زاویه، ضلع، زاویه) |
| د کوساین قانون وروسته د ساین | $SAS$ (ضلع،زاویه، ضلع) |
| امکان نه لري | $AAA$ (زاویه، زاویه، زاویه) |



(c) ketabton.com: The Digital Library

له $I$ او $II$ اړیکو څخه لاندې پایله په لاس راځي:

د نوموړي سیستم له حلولو څخه وروسته د $B$ قیمت په لاس راوړو:

$$B-C=60^\circ \quad ......... \quad \text{I}$$
$$B+C=90^\circ \quad ......... \quad \text{II}$$
$$2B=150^\circ$$
$$\boxed{B=75^\circ}$$

اوس د $B$ قیمت په ایښودلو سره د $C$ زاویه پیدا کوو:

$$B-C=60^\circ$$
$$75^\circ-C=60^\circ$$
$$-C=60^\circ-75^\circ$$
$$\boxed{C=15^\circ}$$

**دویم مثال**: که چیرې د $ABC$ په یوه مثلث کې $c=432$ , $B=42^\circ\ 30'$ او $a=925$ وي، د مثلث نورې اجزاوې پیدا کړئ.

**حل**:

$$A+B+C=180^\circ \Rightarrow A+C=180^\circ-B \Rightarrow A+C=180^\circ-42^\circ\ 30'$$
$$A+C=179^\circ\ 60'-42^\circ\ 30' \Rightarrow A+C=137^\circ\ 30' \ ........ \ \text{I}$$
$$\frac{A+C}{2}=\frac{137^\circ\ 30'}{2} \Rightarrow \frac{A+C}{2}=\frac{136^\circ\ 90'}{2}=68^\circ\ 45'$$
$$\frac{\tan\frac{A+C}{2}}{\tan\frac{A-C}{2}}=\frac{a+c}{a-c}$$

اوس د زاویې او ضلعو قیمتونه په پورتنی اړیکه کې ایږدو، یعنې:

$$\frac{\tan 68^\circ\ 45'}{\tan\frac{A-C}{2}}=\frac{925+432}{925-432} \Rightarrow \frac{\tan 68^\circ\ 45'}{\tan\frac{A-C}{2}}=\frac{1357}{493}$$

یا:

$$1357\cdot\tan\frac{A-C}{2}=493\cdot\tan 68^\circ\ 45' \Rightarrow \tan\frac{A-C}{2}=\frac{493}{1357}\cdot\tan 68^\circ\ 45'$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

له مثلثاتي جدول څخه پوهېږو چې $\tan 68^\circ\ 45' = 2.5714$ دی؛ نو:

$$\tan\frac{A-C}{2} = 0.9341 \quad\Rightarrow\quad \frac{A-C}{2} = 42^\circ\ 59'$$

$$\boxed{A-C = 85^\circ\ 58' \ \ldots\ldots\ \text{II}}$$

اوس د $I$ او $II$ اړیکو په پام کې نیولو سره لیکو:

$$A+C = 137^\circ\ 30' \ \ldots\ldots\ \text{I}$$

$$A-C = 85^\circ\ 58' \ \ldots\ldots\ \text{II}$$

$$2A = 222^\circ\ 88'$$

$$\boxed{A = 111^\circ\ 44'}$$

$$C = 137^\circ\ 30' - A \ \Rightarrow\ C = 137^\circ\ 30' - 111^\circ\ 44'$$

$$C = 136^\circ\ 90' - 111^\circ\ 44'$$

$$\boxed{C = 25^\circ\ 46'}$$

$$\frac{\sin B}{b} = \frac{\sin C}{c} \ \Rightarrow\ b = c\cdot\frac{\sin B}{\sin C}$$

$$b = \frac{432\sin 42^\circ\ 30'}{\sin 25^\circ\ 46'}$$

$$\sin 42^\circ\ 30' = 0.6756$$

$$\sin 25^\circ\ 46' = 0.4346$$

$$b = \frac{432}{0.4346}\cdot 0.6756 = 994.01\cdot 0.6756 = 671.5582cm$$

**پوښتنې**

د لاندې ورکړل شوو عناصرو له مخې د مثلث نامعلومې اجزاوې پیدا کړئ.

a) که چېرې $a = 35ft$ , $B = 60^\circ$ , $C = 75^\circ$ وي.

b) که چېرې $\alpha = 45^\circ$, $b = 37m$ او $\gamma = 75^\circ$ وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی مثال**: د $\ldots, 6, 12, 24, 48, 96$ هندسي ترادف په پام کې ونیسئ، ګډ نسبت یې په لاس راوړی.

**حل**: هر حد يې په مخکيني حد باندي وېشو:

$$96 \quad 48 \quad 24 \quad 12 \quad 6$$

$$q=\frac{48}{96}=\frac{1}{2} \qquad q=\frac{24}{48}=\frac{1}{2} \qquad q=\frac{12}{24}=\frac{1}{2} \qquad q=\frac{6}{12}=\frac{1}{2}$$

**فعالیت**

- په یوه هندسي ترادف کې $a_1=2$ او $q=3$ دی، $a_2$ , $a_3$ او $a_4$ حدونه پیدا کړئ.

**یادونه**

$q>1$ لپاره ترادف متزاید دی.

$q<1$ لپاره ترادف متناقص دی.

$q=1$ لپاره ثابت ترادف په لاس راځي.

**دویم مثال**: د $\ldots, 100, 300, 900, 2700$ هندسي ترادف په پام کې ونیسئ لومړی حد او ګډ نسبت یې په لاس راوړئ او ووایاست چې پورتنی هندسي ترادف متزاید دی او که متناقص.

**حل**:

لومړی حد $= a = 2700$

ګډ نسبت $= q = \frac{900}{2700}=\frac{9}{27}=\frac{1}{3}$

په پورتني مثال کې $q=\frac{1}{3}<1$ دی، نو نوموړی ترادف متناقص دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مټريکس مرتبه**: که د $A$ د مټريکس د سطرونو شمېر $m$ او د ستونونو شمېر يې $n$ وي، وايو چې د $A$ مټريکس مرتبه د $m\times n$ څخه عبارت دی اوداسې ويل کېږي $m$ په $n$ کې مټريکس او ليکو $A=(a_{ij})_{m\times n}$ د هر مټريکس د سطرونو او ستونونو شمېر د همغه مټريکس مرتبه ښيي.

**فعاليت**

- د لاندې مټريکسونو مرتبه وټاکئ.

$$A=\begin{pmatrix} 2 & 3 \\ -1 & 5 \\ 1 & 2 \end{pmatrix} \qquad B=\begin{pmatrix} 1 \\ 3 \\ 5 \end{pmatrix} \qquad C=\begin{pmatrix} 2 & 3 & 4 \\ 1 & 5 & 6 \end{pmatrix} \qquad D=\begin{pmatrix} a & b \\ c & d \end{pmatrix}$$

پاملرنه وکړئ، هغه مټريکس چې يو سطر او يو ستون لري يعنې $A=(X)_{1\times 1}$، نو د $A$ مټريکس د هغه له داخلي عدد سره مساوي دی. $A=(7)_{1\times 1}=7$

**مثال**: لاندې مټريکسونه د مستطيلي جدول په ډول وليکئ.

$a) \quad (a_{ij})_{2\times 2}=(i+j)_{2\times 2} \qquad\qquad b) \quad (a_{ij})_{3\times 2}=(i\cdot j)_{3\times 2}$

**حل**: د پورتني هر مثال د حل لپاره لومړی د مټريکس عمومي شکل ليکو، د $a$ جزء د مټريکس عمومي شکل $2\times 2$ کې يو مټريکس دی.

$$\begin{pmatrix} a_{11} & a_{12} \\ a_{21} & a_{22} \end{pmatrix}$$

$a_{ij}=i+j$

$a_{11}=1+1=2 \ , \ a_{12}=1+2=3 \ , \ a_{21}=2+1=3 \ , \ a_{22}=2+2=4$

په پايله کې غوښتل شوی مټريکس عبارت دی له: $\begin{pmatrix} 2 & 3 \\ 3 & 4 \end{pmatrix}$

د $b$ جزء): د $b$ جزء د مټريکس عمومي شکل يو $(3\times 2)$ کې مټريکس دی، يعنې 3 سطره او 2 ستونه لري.

$$\begin{pmatrix} a_{11} & a_{12} \\ a_{21} & a_{22} \\ a_{31} & a_{32} \end{pmatrix}$$

$a_{11}=1\cdot 1=1 \ , \ a_{21}=2\cdot 1=2 \ , \ a_{31}=3\cdot 1=3$

$a_{12}=1\cdot 2=2 \ , \ a_{22}=2\cdot 2=4 \ , \ a_{32}=3\cdot 2=6$



(c) ketabton.com: The Digital Library

